ليکوال: سراج الحق ببرک زیٔ ځدراڼ ۲۰۱۰/۰۶/۱۷م

# د چین د ولسي جمهوريت دوه متضاد سياسي سېستمونه

سريزه:
که څوک غواړي چين وپيژني هغه بايد يوه کتنه د دې هيواد تاريخ ته وکړي . ځکه د چين لرغوني اوږد تاريخ ستره اغيزه پر اوسني مدرنه ټولنه او سياسي مشرتابه باندې لري . سرې کړي شي د چين دننني ولسي جمهوريت د راتلونکي نړيوال سياست او ځواک انګيرنه وکړي. د چينايانو تاريخ د نړی له لرغونو تاريخونو څخه ګڼل کيږي. څومره چې سرې دچينايي تاريخ تيوري تعقيبوي هغمره اوږديږي. د چين تاريخ ته دلويديځ په تاريخي کتابونو کې سر سري کتنه شوي ده. ديره موده اروپايي تاريخپوهانو د چين تاريخ ته د يو ځوان تاريخ په څير کتلي دي . اوس د لرغونپوهانو په نويو پلټونو کې رابرسېره شوي دي چې چين دبشر د مهاجرتونو په لويه لاره کې پروت وو. دغه لاره د مصر څخه د مخته ختيځ پلور پيل کيږي چې بيا د وريښمينو له لارې سره يوځای کيږي او د چين زړه ته ورننوزي . دغه لار له همدې ځای څخه بيا سويلي امريکي ته ورځغيږي . پر همدې بنسټ موږ له يو زوړ کولتور سره چې پيل يې د زوړ ډبرين پير څخه اټکل ۱۰۰۰۰ کاله له مسيحيت څخه مخکې دی مخامخ کيږو. په چين کې د پخوانيو انسانانو شتون اټکل ۱،۸ ميليونه کاله مخکې له مسيحيت څخه په اثبات رسيدلي دي . چين د بشريت له زړو تمدنونو څخه يو تمدن دی.

چين د برسېروني او نوبيستني هيواد دی . زوړ چين په ډيرو پوهنيزو برخو کې خورا ډير پرمختګونه کړي وو، لکه په ادبياتو، فلسفه ،مذهبپوهنه ،طبابت او همداسي د پيسي او نوټونوجوړول، باروت، مقناتيسي قطب نما، دکرني لاسي تخنيک ،وريښمين ، کاغذ، درې سوه کاله مخکې له مسيحيت څخه په چين کې ۳۶۰ ورځنی کاليزي شتون درلود،د مسو، اوسپنيني اوبول او دکتابچاپ نوبيستني يا اختراعات ياده ولي شو . په حکومتوالي کې د ښو مسلکي مامورينو روزنه او داسي نور برخو کې له نورو ولسونو څخه مخکښ ولس پيژندل شوي دی . په معماريو کې له شماله دکوچې سپرو تيريکونکي ولسونو څخه په دفاع کې دنړی ستر هيرانونکي ديوال ۲۴۵۰ کيلومتر اوږد جوړول ياده ولي شو . د چين سياسي تاريخ اټکل ۲۰۰۰ کاله مخکې له مسيحيت څخه پيل کيږي . د چين په هره سيمه کې سره له بې شميره کورنيوجګړو څخه دغې شکيدلي هيواد د خپل اوږد تاريخ په لړ کې لاره ملي يوالي اوچينايي کولتور ته خلاصه کړي ده .

د لويديځ او اسلامي امپراتوريو ته په کتو سره چين له ۲۲ پيړيو څخه خپل کولتوري کړي، سياسي يوالي او خپله خاوره دلاسه ورکولو سره بيرته يو ځای کړي ده .د دوی کولتور د نړی له ډيرو کولتورنو اوږد اروپا تر نوي پيره پوري مخکښ کولتور وو .

په دغه ليکنه کې د چين کمونيستي تاريخ ته له ۱۹۴۹ کال څخه راپه ديخوا له سياسي،اقتصادي، پوځي ، ټوليز ه پلوه اوچين د راتلونکي نړيوال زبرځواک هيواد په توګه د امريکي ځای ناستي ته يوه کتنه شوي ده .

**که څوک د چين په محاصر تاريخ باندې ځان پوهول غواړي ، هغه بايدد چين کمونيست دولتي ګوند وپيژني . د چين په کورني او نړيوال سياست کې چې هرڅه پيښيږي دچين کمونيست ګوندسياسي بيروي يې ټاکي .**

د چين ولسي دولت ليوالتيا د چين نړيوال اقتصاد،دنړيوال انرجيکي پوښتنو،دنړيوال اقليم بدلون، دنړيواله سولي په اړه ورځ په ورځ ډيريږي . که څوک دغې پوښتنو ته ځواب لټوي ،هغه بايد د چين کمونيست ګوند په يوه کوچني ډله کې دې ولټوي . دلته پوښتنه د چين د دولتي سياسي سېستم وړتيا او چلښت رامنځته کيږي، دغه هيواد اټکل د نړی پنځمه برخه وګړي لري . د چين د ولسي جمهوريت او د چين کمونيست ګوند وده له يوبل سره ټينګ نښليدلي دي .

۱ . د نړی د لرغوني امپراتوری پای
د زاړه چين دسترو ټولواکو اود امپراتوري تاريخي لړي ډير اوږده ده . چين د نړیٔ کولتور ي تاريخ اوږد او بې ساری تاريخ لري . له ۲۲۱ کال مخکې دمسيحيت څخه تر ۱۹۱۲ ز کال چين دنړی يوه ستره امپراتوری وه . ډيره موده زوړ چين د نړی له اغيزو څخه بې برخي وه . په ۱ ۲۲ کال مخکې له مسيحيت څخه په چين د لومړني فيودالي دولتي ځواک مرکز بنسټ کيښودل شو . د ۲۲۱ تر ۴۰۳ کال په پخواني چين کې ووه کوچني سيمه ايز دولتونه يا هيوانونه په نامه د چينګ، چو،چي،وي،يان،و، اوهان شتون درلود. د چين په شمال لويديځ کې د چين په نوم يو دولت چې د نورو دولتونو څخه نسبتاً په پوځي او ملي ځواک کې پرمختللي وو . د همدې دولت نوم درست چين ته غوره شو . د۱۶۵۹ تر ۱۰۲۷ کال مخکې له مسيحيت څخه د چين لومړني امپراتور ی د چينګ دکورنی سلسلي له خوا رامنځته شوه. د ۱۰۲۷ تر ۲۵۶ کال مخکې له مسيحيت څخه د چو د کورنی سلسلي رامنځته شوه. د ۲۲۱ تر ۲۰۷ کال مخکې له مسيحيت څخه د چين کورنی سلسله رامنځته شوه . د ۲۰۷ تر ۲۲۰


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**يادونه:** دليکنې د ليکنيزی بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په څير و لولئ

مخکې او ورسته له مسیحیت څخه د هان کورنۍ سلسله رامنځته شوه. د ۲۲۱ تر ۵۸۹ کال د هان امپراتورۍ په درې برخو وویشل شوه او کورني جګړې پیل شوي . د ۵۸۹ تر ۶۱۸ کال د سوۍ کورنۍ سلسلې بیا ټول چین شمال او لودیځ یې ترخپل کنټرول لاندې راوست او د چین په ستر دیوال جوړولو بیا کار پیل کړو . د ۶۱۸ تر ۹۰۶ کال د ټانګ کورنۍ سلسلې چین یې نړیوال ځواک ته ورسوه. په دغه پیر کې کولتوري رنیسانس، هنر ،شاعري ، سوداګرۍ ، د دولتي ماموریونو څخه ازموینه اخیستل پیل شول . کار د کاراهل ته سپارل کیده ، نه یو توکم ته . د ۹۰۷ تر ۹۶۰ کال پنځه نوي سلسلې رامنځته شوي ، چین په شمال او لودیځ باندې بیا وویشل شو . د چین یو برخه تورکې ولسونو تر خپلي ولکې لاندې راوسته . د ۹۶۰ تر ۱۲۷۹ کال د سونګ کورنۍ امپراتوري سلسلې رامنځته شوي . دوی په چین کې بیا یوالې راوست ، کولتوري وده، پوهنه او تخنیک وده وکړه اویو کوچنۍ صنعتي انقلاب رامنځته شو. په دیارلسمه پیړۍ کې منګولیایانو چین ونیوه . چنګیزخان پر ټول چین باندې خونړۍ یرغل وکړو، شمالي چین سره د پلازمېنه بیجینګ د منګولیایانو په لاس کې ولویده . دلته یواځې د چنګیز له لمسې د کوبلې خان له سلسلې څخه یاده ونه شوي ده . په ۱۲۷۱ کال کې مارکوپولو د نړۍ نامتو سیلانۍ او سوداګر د ایټالیه څخه د افغانستان له لارې د چین په لور روان شو . مارکوپولو لومړني اروپایي وو چې غوښتل یې د چین په،، دادو ، ښار کې د کوبلې خان له امپراتوري څخه لیدنه وکړي . مارکوپولو شل کاله په چین کې پاتي شو. د ۱۲۷۹ تر ۱۳۶۸ کال دیون امپراتوري د منګولیایانو له خوا رامنځته شوه. په ۱۳۶۸ کال کې دچین د مینګ سلسلې درامنځتکیدو سره دمنګولیایانو ورستي ټولواک خپلې پښې سپکې کړي . د ۱۳۶۸ تر۱۶۴۴ کال د مینګ کورنۍ سلسلې منګولیایان یې نږدې دسلو کالو ورسته له چین څخه وشړل . د مینګ امپراتور د چین دامپراتوري لپاره د پیکینګ ښار د پلازمېنې په توګه غوره کړو . دشپاړلسمی پیړۍ په پای کې د تزارۍ روس پوځونه چین ته ورودانګل . په۱۶۸۹ کال کې د چینایانو او روسانو ترمنځ د نیبوچو دسرحدې پولو تړون لاسلیک شو . د ۱۶۴۴ تر ۱۹۱۲ کال د کینګ کورنۍ سلسلې رامنځته شوه . د کینګ امپراتور ي د بهرنیو او اروپایانو لاسوهنو په وجه ونړیده. چین مجبور شو د اروپایانو سوداګري قانون ومني او له ډیرو سیمو څخه تیر شي . په ۱۹۱۲ کې چینایانو د مینګ کمزوري رژیم رنګ کړو او دچین جمهوریت علان یې کړو . له همدې سره د چین ورستي امپراتوري له منځه ولاړه . د جاپان جګړې او د کمونېستانو کورنې جګړې څخه ۳۷ کاله ورسته جمهوریت هم لمنځه ولاړ ل . د ۱۹۴۶ تر ۱۹۴۹ کال د چین کورني جګړه له ولسپالو څخه کمونېستانو وګټله . ولسپال مجبور شول تایوان ټاپو ته واړي .

## ۲ . د کمونېستي چین بنسټ او سیاست

په ۱۵۱۶ کال پورتګالیانو د چین په کنتون سیمه کې لومړني سوداګریزه اډه پرانیسته .

په ۱۶۲۴ – ۱۶۶۲ کالونوکې هالندیانو تایوان لاندې کړو . په ۱۸۹۵ کال کې په لومړۍ ځل د چین او جاپان ترمنځه جګړه پیل شوه . دنونسمي پیړۍ په پیل کې ګڼ شمیراروپایې سوداګرو چین ته تګ او راتګ کاوه . انګرېزي او هالندي سوداګرو چینایې توکې لکه چاي ،چیني لوښي ، وریښمین یې له سپینو زرو سره بدلول . لودیځ له همدې امله ځښت ډیر سپین زر چین ته ورکړو . په نولسمه پیړۍ کې انګرېزانو په خپله مستعمره برتانوي هند کې کرلې اپین چین ته دقاچاق له لارې لیږدول او په بدل کې چینایي توکې رانیول . دنولسمي پیړۍ په پای کې ۱۲ میلیونه چینایان په اپینو روږدي وو .اپینو له یوې خوا چینایې وګړي روږدولو له بلې خوا د دوی اقتصاد لمنځه وړلو . چین مجبور شو د اپینوروږدي ناروغانو د تداوي په بدل کې لویدیځ ته بیرته د سپینو زرو ورکولو پیل کړي . په چین کې سپین زر کم شول، ورسره د چینایانو د پیرودلو ځواک هم کم شو ،په چین کې بې روزګاري ډیره شوه . په ۱۸۳۸ کال کې د چین ټولواک د اروپایي سوداګرو او داپینو د قاچاق مخه ونیوله ،نیول شوي اپین یې لمنځه یوړل . کله چې چین په دې برخه کې ډیر ورسته غبرګون وښود او نیول شوي اپین یې په اوبو کې ډوب کړو . انګرېزان چینایانو ته په قهر کې وخواټیدو،انګرېزانو د چین څخه د اپینو تاوان وغوښتلو. چینایانو د انګرېزانو دغه غوښتنه رد کړه .انګرېزانو د چینایانوسره د وسلو په زور خبرې پیل کړي . په ۱۸۴۲ کال کې انګرېزانو د چین په وړاندې جګړه اعلان کړه . د جګړې په پای کې چین تسلیم شو او چینایي مشران مجبور کړل شول چې یو شمیر غیرقانونې غیر متوازن تړونونه لاسلیک کړي .

په ۱۸۴۲ کال کې انګرېزانوځینو ښارونه لکه هانګ کانګ ، شانګهاې ،د زړې امپراتوري نانینګ ښارګوټي ، ستر ستر کانالونه او د تګ او راتګ لارې تر خپلې ولکې لاندې راوستي. چېنایان له ډیرو سمندرې ښارګوټې څخه لاس په سر شول او لاره لویدیځوالو مالونوته خلاصه شوه. د چین سیاستوالو پر بهرنې سوداګري باندې کنټرول له لاسه ورکړو، ورسره د دوی صنعت او پوځې ځواک له منځه ورلاړلو. له همدې امله چین ورو ورو د اروپایي نړیوال کولونیال ځواکونو،امریکایي او جاپاني ځواکونو د لوبو ډګر وګرځیدو.

په ۱۹۰۰ کال کې د بکسرانو بغاوت هغه مهال پیل شو . کله چې د پیکنیګ ښار د شا او خوا په ځینو ولایتونو کې د اروپایانو څخه د نفرت لړي رامنځ ته شوه او دوی د پردي شیطانان په نوم ونومول . په ۱۹۰۶ کال کې په لومړي ځل د بادشاهې پر وړاندې پاڅون پیل شوو . په ۱۹۱۲ کال کې سون یت سین دچین جمهوریت اعلان وکړ .

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه:** دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په ۱۹۴۹کال کې د ماوسیتونګ په مشرۍ کمونستانو په چین کې برئ ترلاسه کړو او د دغې هیواد د خپلواکۍ او خپلواک سیاست بنسټ کیښودل شو . په ۱۹۵۹ کال ماوسیتونګ ولسمشر او ډنګسیاو پنګ مرستیال و ټاکل شول. د دوهمې نړیوالې جګړې په پای کې د چین کورنې جګړې هم پای ته ورسیدې . په ۱۹۵۰ کال چین د پخوانې شوروي اتحادسره د ګډې همکارې یو تړون لاسلیک کړو .چین په خپل هیواد کې د شوروي اتحاد اقتصادي او اداري سېستم پلې کړو. د چین ولسي جمهوریت دولتي سېستم په اصل کې د پخوانې شوروي اتحاد د دولتي موډل پر بنسټ ولاړ دی .

**په ۱۹۶۶ – ۱۹۷۶ کالونو کې دستر کولتوري انقلاب پروپاګنې پیل شول . په ۱۹۶۱ کال د نسبي ازادي سره په اقتصادي او ټولنیزه ژوند کې د کپیټالیستي یا پانګوالې توکې څرک را څرګند شول . دماوسیتونګ هیله دا وه چې دچین بې اختیاره خلک په خپله خپلې پېسې و ګټي، دهغه دا هیله نه پلې کیده . په ۱۹۶۰کال کې ماو د شوروي اتحاد خلاف دریز غوره کړو . د دواړو دولتونو اړیکې ترینګلې شوي . ماو د خپل ځای ناستي ولسمشر لویی شویوګای یې شوروي اتحاد ته دجاسوس او ملي خاین په نوم ونوماوه . ماوسیتونګ د شانګهای ښار څخه د ولسمشر پر وړاندې سورګارد سمبال کړو، پوځ له دغې خپلمنځې کړکیچ څخه ځان لری وساتلو . په ۱۹۴۹ کال کې کله چې د چین ولسي جمهوریت د ماوسیټونګ له خوا رامنځته شو، په نړیوالو چارو کې کوم اغیزمن هیواد نه وه .د چین بهرنې سیاست په انزواه کې و . د چین اړیکې د امریکې متحده ایالاتو اود خپل مخکښ هیواد پخوانې شوروي اتحاد سره وشکیدی . ماوسیټونګ غوښتل چې پر خپل مټ ولسي جمهوریت ته یو ستر بدلون ورکړي . دی په دې باور وه چې سم کمونیزم ته یوه نوي لاره هواره کړي . په دغه سمه لار کې د ۷۰۰ میلیونه څخه ډیر انسانان په ډیره بې رحمي، بربریت او ظلم سره ووژل شول . په ۱۹۷۸ کال کې کله چې ماوسیټونګ ومړ لاره بدله شوه . اقتصاد ي ریفورمونه رامنځته شول . په بهرنی سیاست کې بدلون راغې . دغه بهیر بیا ترننه نه دی بشپړشوي . دچین په دی ورستیو کالونو کې یو خاص بدلون تر سترګوکیږي . ورسره د دغې کمونېستي دولت اقتصادي پرمختګونه دبهرنیو هیوادو له خوا په ډیر ځیر سره څارل کیږي .**

چین په بهرنې سیاست کې د امنیت شورا دایمي غړې او دخپل ویتو حق یا رښته سره دغه نړیوال لوی اټومي ځواک په نړیوالو اړیکو باندې ستره اغیزه لري . په قانوني توګه د سړې جګړې څخه ورسته یواځې ملګرې ملتونه یو نړیوال ځواک بلل کیږي. د چین دا ورستي پرمختګونه ټول داسي مانا ورکوي چې دغه هیواد دامریکې متحده ایالاتو سیال ګرځیدلې دی. په بله وینا د امریکې متحده ایالات لا د نړئ یواځنې زبرځواک هیواد دی ، داسي ښکاري چې د امریکا د زبرځواکئ وخت ډیر لږ پاتې دی . چین ځان د امریکې ځای ناستي بولې . دلته ډیري پوښتنې راولاړلیږي. ایا چین په ریښتیا سره ځان دامریکې کچې ته رسولې دی . چین به په ریښتیا سره راتلونکې نړیوال زبرځواک شي . ایا داشونې ده چې چین د نړیوال زبرځواک متحده ایالات ځای ناستي شي .ایا داحالت به نړئ څو قطبې او یا بیا دوه قطبې کړي . څنګه دغه هیواد په دومره چټکه سره پرمختګ وکړه او څنګه دغه هیواد پس له دومره انزوا څخه په نړیواله کچه په نړیوالو اړیکو کې دومره ځواکمن فکتور شو ؟ د چین موضوع هېڅ کله دومره توده نه وه لکه نن ، نړدې هره ورځ دغه هیواد په رسنیو کې مطرح کیږي او عتبار یې نوره ډیرریږي .

په ۱۹۸۰ کالونو کې دچین ریفورمګر ، نوښت ګر او د چیني کمونیزم مهندس ډنګ سیاوپنګ ویلې وو، چې دا مومهم نه ده چې پشه توره ده که سپینه، مومهمه دا ده چې هغه موږک ونیسي .هغه ویل ، چینایان اجازه لري ماړه او ښه شتمن اوسا ژوند ولري، تر څو چې دوی په سیاسي ډګر کې د ګوند په ډول او خبره ګدیږي . ماو سیتونګ د ډنګسیاوپنګ سره په دغه خبره ستر اختلاف پیدا شو. دهغه خبره د چین اوږده لار کمونېستي دولت او له کپیټالیستي اقتصادي میتودنو سره په تضاد کې وه . په بله وینا تولید له ایډیالوجې څخه مهم دی . ډنګسیاوپنګ په دې باور وه چې دا لار د هغه ولس ته خورا موهمه لار ده چې اقتصاد ښه چلیږي .نور ټول شیان حتا کمونېستي ایډیالوجئ په دوهمه کچه کې راځي .د ډنګسیاوپنګ دافکر دهغه استاد ماوسیتونګ ایدیالوجي سره مطلق په تضاد کې وو . دماوسیتونګ په کولتوري انقلاب کې اقتصاد لمنځه ولاړلو، د ماوسیتونګ ایډیالوجې په لار کې په میلیونونه چینایان ووژل شول .

یو ۶۰ کلن چینایي وایې، که دموږ اقتصادي وادې ته وکتل شي، سړی کړي شي ووایي ،چې دا له پخوا څخه سوسیالیزم نه وه . داسي ده لکه چې سړی د پسه غوښه پلوري خو په حقیقت کې د سپې غوښه خرسوي . دا هیواد کله کله له ولسواکې څخه خبري کوي خو دلته ولسواکې اصلاً نشته . د چین د بشر په رښتونه او ولسواکې کې هېڅ ډول بدلون نه راځي . دلته خلک په زندانو کې اچول کیږي، ځکه دوی د ګوند سره هم فکره نه دي . اخبارونه،ټلویزیونونه،انټرنیټ، ډلیزه رسنئ په ډیره جدي توګه سانسور کیږي . جګپوړي چارواکې ، کدرونه،لوړ دولتي سیاسي پوستونه ټول انتصابي دي . کمونیست ګوند د مارکیټینګ او اقتصادي ودې سره پرخپل واک ټینګ ولاړ دی .

ډنګسیاوپنګ د ګوند په لومړنیو ورځو کې د کمونیزم یو سرسخته سرتیرې ووا پر خپل ټولواکې ټینګ ولاړ وه . دی یو له هغه شمیر کسانو څخه وچې د اوږد مارش څخه ژوندی پاتې شوی وو . دا اوږد مارش د کمونېستانو تېښته



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د چينايي نېشنلستانو څخه وه . د سلو زرو څخه لس زرو سرتيري ژوندي پاتي شوي وو . دنګ سياوپنګ د شپاړلس کلنو ځوانانو په يو ګروپ کي د زده کړو لپاره فرانسي ته وليږدول شو. چي چينايان په فرانسه کي فرانسوي کپيټاليستي ميتودونه زده کړي . دزده کړي پروګرام ته د چين له خوا نوره پيسي ونه استول شوي . دنګ سياوپنګ مجبور شو د فرانسي په فابريکو کي په ډيرو ناوړو حالاتو کي پيسي وګټي . دی بيا په فرانسه کي دفرانسي دکمونيست ګوند غړي شو.له يو کپيټاليست څخه يوسرسخت کمونيست جوړ شو . دنګسياوپنګ د چين ددولتي کپيټاليزم موهندس دی . ډنګسياوپنګ بيا پر تبت باندې د چينايانو د پوځي يرغل مسوول دی . د ده تر مشري لاندي تبت په پوځي زوراو ځواک سره ونيول شو.

## ۳ . د چين جمهوريت ملي کانګرس سېستم

چين يو ګونديزه سېستم لري،سوسياليستي اقتصاد او دولتي سېستم د چين په اساسي قانون کي تصويب شوي دي . دچين جمهوريت د دولت عالي اروګان ملي ولسي کانګرس يا ولسي جرګه ده . ولسي جرګه ولسمشر،دولتي شورا يا حکومت،ولسي ستره محکمه، د پوځ مرکزي کمېسيون او لوی څارنوال ټاکي . دولسي جرګي ټاکني د يو دايمي کمېټي له خوا ترسره کيږي . ولسي جرګه د پنځو کالو لپاره ټاکل کيږي . هر کال يوځل ملي ولسي جرګه جلسه کوي.

دچين ملي ولسي کانګرس د سياسي واک او د چينايي دولتي فورم يواورګان دی . ملي کانګرس تر ټولو اورګانونو څخه په ملي او سيمه يزه کچه د واک لوړ اورګان دی . چين به دسوسياليزم په لاره کي کلک وفادار پاتي شي ،لومړی وزير وين جين تاوه يوځل بيا دچين ولسي کانګريس ته د وينا پر مهال وويل . په بله مانا کمونيست ګوند په هيڅ وجه نه غواړي واک له لاسه ورکړي . له بل پلوه کپيټاليزم په چين کي ځليږي او داحالت چينايانو ته يو نورمال ژوند ګرځيدلي دی .

چين کپيټاليزم ته په کمونيزم کي ځای ورکړي دی .کپيټاليزم او کمونيزم په چين کي څنګ په څنګ شتون لري . ډيرو ته او په تيره بيا په لويديځ کي دا يونه منل کيدونکي تضاد دی . چينايانوته يوه نورماله خبره ده . سوسياليزم اوکپيټاليزم په چين کي چينايي بڼه لري .

## ۴ . د چين د کورني سياست وده او بڼه

د چين ولسي جمهوريت يو سوسياليستي هيواد دی . دچين ولس د يو ولسواکه ديکټاتوري سېستم له لاري او د چين د کمونيست ګوند تر مشري لاندي اداره کيږي او رسمآ يو لامذهبه دولت دی .

دچين هيواد له ۱۴ ګاونډي هيوادو سره ۲۲۰۰۰ کيلومتره سرحد ي پولي لري ۱۸۰۰ کيلومتره سمندر لارلري . ماوسيتونګ په دې اند وو، چي يوځواکمن هيواد ډير و وګړو ته اړتيا لري . دالړي تر هغه دوام درلوده تر څو چي چين د لوړي له ستر ناورين سره مخامخ شو . په ۱۹۷۳ کال کي په کورنی کي د يو ماشوم قانون رامنځته شو . له همدې قانون سره د چينايي وګړو د بې شميره زيګون مخه نيول شوه .

د ډنګسياوپنګ له خوا سياسي ريفورمونه پلي شول چي په پايله کي د چين اقتصادي وده رامنځه ته شوه .

دچين اقتصادي سېستم دوکاله ورسته د ماوسيتونګ له مرګ څخه د دنګسياوپنګ د ريفورمونو تراغيزې لاندي په وده پيل وکړو . ده په پلان شوي اقتصاد کي ريفورمونه راوسته ترڅو اقتصادي ودې ته لاره هواره کړي . ډنګسياوپنګ په لومړی سر کي کمونيستي رژيم ته مشروعيت ورکړو او په چينايانو کي ټللي اعتبار بيرته پر ځای کړو .

اقتصادي بدلونونه لومړی په کرنيزه اقتصاد کي پيل کړل .کرونګرو ته اجازه وه چي دځمکو د حاصلاتو يوه برخه چي د دولتي پلان له لارې ورکول شوي وي، په ازاد بازار کي وپلوري او پيسي يې په خپله و لګوي . په ۱۹۸۴ کال کي د چين دولت دغه ريفورمونه په صنعتي فابريکو کي هم پلي کړو. په ۱۹۹۲ کال کي دچين کمونيست ګوند په ۴۱ کليزه کي ديو سوسياليستي اقتصادي او ازاد مارکيت ته موخه اعلان وکړو.

له سوسياليستي پلان شوي اقتصاد څخه کپيټاليستي مدل خوا ته بدلون چي په څرګنده توګه د کمونيستي ايډيالوجي له ريښو سره په ټکر کي وه، لړی پيل شوه . دغې نوي کورس پر اقتصادي وده باندي ستره اغيزه وکړه . له همدې سره د بهرنيو پانګوالو مخه را وګرځول شوه او ورسره چينايي کارګرانو ته نوره واک هم ورپه برخه شو . کمونيست ګوند اقتصادي ريفورمونه رامنځته کړو. د ازاد اقتصاد توکي يي له چينايي پلان شوي اقتصاد سره ديوځای کولو هڅه وکړه . چينايان په دغه تجربه کي تر ډيره بريده برياليي بريښي . په لري ختيزکي دغې زوړ نړيوال ځواک، د خپل جيوسياسي سيمه يز ه او نړيواله ليوالتيا په نړيوال سياست کي ستره ونډه لري ،چين لويديځ ته ډيرځواکمن ، ګوابنمن راتلونکي نړيوال ځواک ښکاري .

د پخواني شوروي اتحاد د ړنګيدو څخه ورسته د لويديځ کتونکي ، څيړونکي او سياسي ډيپلوماتان په دې اند وو،چي د چين ولسي جمهوريت اود دوی کمونيست ګوندبه هم له همداسي يو برخليک سره مخامخ شي .



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**يادونه:** دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

### الف . د تبت کړکېچ

چین د پنځوسموکالونو په پیل کې د هیمالایا شمال ته پروت تبت د یو خپلواک هیواد په څیرله پوځې لارې اشغال کړو .چینایایې کمونېستانو تبتیانو ته پر خپلو وعدو لکه د تبت سیاسي سېستم او کولتوري مذهبي هویت ته درنښت ، ونه دریدل . د دې پر ځای خپل ماویستي سېستم يې پر تبتیانووروتاپه . چین اوس تبت د خپلې خاورې یوه برخه ګڼې . په ۱۹۵۹ کال کې چین په تبت کې د امریکې په مالې مرسته بغاوت لمنځه یووړل .

د چینایانو د پوځې حضور پر وړاندې تبتیانو له ۱۹۵۹ کال څخه بې له کوم برۍ څخه خپله مبارزه پیل کړه ده . دالا ی لاما د تبتیانو ستر مذهبي مشر او په نړیوال کچه پیژندل شوي شخصیت هند ته کدوال شو. دا لای لاما په هند کې د عدمي تشد او دسولې لارې سمبول وګرځیدو او له همدې لارې ده د نیواګرو په وړاندې خپله مبارزه پیل کړه . د نوبل جایزی ګټونکې له ۱۹۸۹ څخه د تبت لپاره نه خپلواکې بلکې دیوې ریښتني اوټونومي په لټه کې دی . د چین حکومت د تبت مذهبي مشر دالای لاما تورنوي چې له چین څه د تبت د خپلواکۍ لپاره هلې ځلې کوي . خو دالای لاما وایي، دی د تبت لپار ه د زیاتې خودمختارۍ غوښتنه کړي .

### ب .د ټایوان کړکیچ

ټایوان ختیز اسیایي ټاپو ۲۲ میلیونه وګړي او نږدي ۳۶۰۰۰ کیلومتره مساخت لري . ددغې هیواد وګړو ډیر ښه سوداګریزو ملت ته وده کړي . د چین د کورني جګړې په پای کې ولسپال چینایان ټول ټایوان ولاړل . له همدې امله ټایوان له چین سره په تل پاتي شخړو کې را ګیر دی . د پیکینګ کمونېست دولت ولسواک ټایوان ته د یو یاغې ولایت یا جمهوریت په څیر ګوري . ټایوان پخوا د پورتګال او هسیانیه مستعمره وه .د دوهمي نړیوالې جګړې تر پایه ټایوان د جاپان مستعمره وه . د ټایوان سرک د فورموز سرک په نامه هم یادیږي .دغه سرک کمونېستي ولسي جمهوریت له ولسواکه ټایوان څخه بیلوي . پیکینګ غواړي ټایوان د هانګ کانګ په څیر د اوټونومي نیمه خپلواکه مډل په څیر بیا خپل کړي . څومره چې چین ځواکمن کیږي هغمره امریکایانو ته ګرانیږي چې له ټایوان څخه دفاع کړي .

### ت . په چین کې پاځونونه

په ۱۹۸۹ کال د جون میاشتي په څلورمه نیټه دپیکینګ د سولې په ډګر کې د ولسواکې غورځنګ په خونړي توګه د زرګونو سرتیرو او شوبلو داستولو پر مت لمنځه یووړل شول .اروپایي ټولنې او متحده ایالاتو پر چین باندې د وسلو پلورلو بندیز ولګاوه . له همدې ډګر څخه ماو سیتونګ په ۱۹۴۹ کال د اکتوبر میاشتي په لومړۍ نیټه دچین ولسي جمهوریت اعلان کړو . د تایانامین ډګر له پخوا نه دسیاسي واک یو ستر سمبول ګرځیدلې دی . چین یو ډیروګړیزه هیواد دی . د چین حکومت په چین هربیلتون غوښتونکې پاڅون په ډیر بې رحمه پوځې ځواک سره له منځه وړي .

### ۵ . چین څومره کمونېست اوکپیټالېست دی

کپیټالیزم په کمونېستي سېستم کې ددغې نوي دوه متضاد ډوله نړیوال اقتصادي سیاسي سېستم هیواد بیرغ رنګ سور لري او ځان سوسیالیست درپیږنې . سوسیالیستي سېستم د چین د ولسي جمهوریت بنسټیزه سېستم دی . د هانګ کانګ له بندر څخه اروپا ته د چین نیمایې صادراتي توکې ادلون بدلون ترسره کیږي . له دغې ځای څخه په کال کې ۲۳ میلیونه کانټینره توکې وځې،دچین اقتصاد په ډیره چټکتیا سره په واده کې دی . صنعتي هیوادونه لکه المان کلنې اقتصادي وده ۲،۵ سلنې په کال کې ده ،دچین کلنې اقتصادي وده په دا ورستیو دیرشو کلو کې هر کال دنهو څخه تر دولسو سلنې پور ې وده کړي . د نړۍ ۷۰ په سلو کې د لوبو ټول سامان، ۶۰ سلنې بایسکلونه،له دریونه دوه برخې د عکاسیو کامرې او له نیمایې نه ډیرې دیجټلې کامرې ، میکروویلي ، ډی وی دي ، بوټونه، نیمایې ټول کمپیوټرنونه او ګرځنده ټیلیفونونه ۴۰ سلنې ټول ټلویزیونه په چین کې جوړیږي . په همدې ورستي کال کې چین د المان فدرالي جمهوریت دموټرو جوړولو په صنعت او د صادراتو په برخه کې دریم ځای ته ولیږلو . همدا اوس دچین ولسي جمهوریت د نړۍ له پنځو لوی اقتصادي هیوادو څخه دی . پر همدې بنسټ کولې شو موږ نن چین دنړیوال کپیټالیزم یاپانګوالي نوې مرکز وګڼو .

چین اوس یو کپیټالستي ستر هیواد دی ،چینایانو ته سوسیالیستي سېستم لکه په پخواني شوروي اتحاد او په ختیزه اروپا کې یو ناکامه سېستم دی . چینایانو پانګوالي یا کپیټالیزم په خورا مهارت سره په پښو ودروه . یواځې کمونېستان باید د واک له انحصار څخه لاس په سر شي او ولسواکې ته لاره هواره کړي . ددې خبرې دثبوت لپاره چې دلته نه کمونېزم وه او نه ترننه دلته کمونېزم شتون درلود ، ثبوتونه ډیر دي .

چین نن په یو اقتصادي انقلابي پړو کې لکه انګلستان د اتلسمې پیړۍ په صنعتي انقلاب کې ولاړ دی .

کمونېست چین په دې ورستیو دوو لسیزوکې دیو ستر بې سارې کپیټالېستي انقلاب څخه راوځي . د دوی اقتصاد دشلو کالو د پخوا په پرتله نن لس ځله ډیر شوي دی . چین په اتیاومو کالونو کې په نړیوال اقتصاد کې هېڅ ډول رول نه درلود .نن دغه هیواد د نړۍ دریم سوداګریزه ځواک ګرځیدلې دی .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه:** دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دچین لومړی وزیر وین جیتاو په ولسي کانګرس کي وویل ،کمونیستي پرنسیبونه باید تر پوښتني لاندې راشي . دهغه په خبره چین باید سل کاله نور په سوسیالېستي لاره کي ولاړ شي . دې وایي ،که موږ خپل فکر خپلواک کړواو په ریښتیا سره موږ د ریښتاییني پلټنه وکړو،د وخت سره قدم واخلو،په دې تمه چي نوښتونه رامنځته کړو،بې له خندونو جوړولو څخه دسوسیالیزم په لاره کي په چینایي بڼه ولاړ شو،په ریفورمونو او د دروازو په خلاصول ټینګ ودریږو ،بیا موږ کولی شو چي د مدرنېزم ستري موخي ته ورسیږو .
پوښتنه دا ده چي کمونېزم په چین کي چلیږي او که نه ؟ . د چین حکومت به دغي پوښتنی ته دهو ځواب ورکړي . په ۱۹۹۲ کال کي دچین حکومت خپل سېستم ته د سوسیالیستي اقتصاد نوم ورکړو .
ځني په دې باور دي چي چینایي سوسیالیستي اقتصاد یو چټک کپیټالیزم دی . لاملونه یې داسي وړاندې کوي . په چین کي دولت اقتصاد کنټرولوي او کمونیست ګوند حکومت ته لاربښونه کوي . په چینایي سوسیالېزم کي په تولنیزه کچه ډیره بې عدالتي شته او د ولسواکي ډیر کمښتونه لري .
دولتي ملکیت پر تولیدي توکو باندې داسي معنا ورکوي لکه سوسیالیستي ټولنه . د سوسیالېزم پر تګي باندې له پیل څخه په کارګري غورځنګونو کي اتفاق موجود نه وه او تر پوښتنو لاندې وو. کارل مارکس ،فریدریش انګلس او روزه لوګزامبورګ پر سوسیالیستي دولت باندې ګوتنیوکه کوله . دوی د دې مخالف وو چي سوسیالېزم پر دولتي حاکمیت باندې واوړي . دوی په دې باور وو چي سوسیالېزم په اصل کي د تولیداتو ولسواکیزه کولو په معنا دی او ورسره به یې ویل چي کارګره طبقه ځان بایدپه خپله ازاد کړي . په یوه سیاسي غورځنګ کي اکثریت باید د اکثریت په چوپړ کي وي .کپیټالیستي دولت باید په انقلابي مراحیلو کي ونړول شي . د ولسواکي په جوړښت کي باید کارګره طبقه رامنځته شي . سوسیالېزم بې له ولسواکي او ولسواکي بې له سوسیالېزمه نه شته ، روزه لوکزامبوګ لیکي .
ننني چین اولویدیځ صنعتي هیوادونه ټولني له دغي ولسواکه اداره شویو ټولني څخه ډیر لیري دي .
په چین کي دولت لکه په دودیزه کپیټالېستي ټولنو کي د یوې خاصې کوچني د چاروکو اومامورینو ډلي ترکنټرول لاندې دی . د دوی د واک مرکز د چین کمونیست ګوند دی .ګوند د دولت ټول اورګانونه او اداري واحدونه کنټرولوي . مهمي ستراتجیکي پوښتني او د سیاسي چاروکو صلایت په دولت کي نه بلکي د ګوند په مرکزي کمیټه کي فیصله کیږي . د ګوند مشري دسیاسي بیرونهه کسیزه ډله کوي .
په دغه یو ګوندیزه دولت کي نه یواځي سیاسي کدرونه لکه جنرالان، ځواکمن دولتي مامورین د ګوند له لاري له یو بل سره تړلي دي ، بلکي د سترو کمپنیو مشران او خورا شتمن خلک سره یوځای شوي دي . د بیجینګ د تولنپوهني اکاډمي د یوې سروې پر بنسټ دګوند ۹۵ میلیونه اکثریت غړي دچینایي ټولني خورا شتمن خلک دي . په چین کي یوه کوچني ډله د دولت د سترو کمپنیو مشران او شخصي سوداګر د دولت پر ټولو شتمنیو باندې کنټرول لري .

دولتي اقتصاد په چین کي د هغي څه خلاف دي څه چي مارکس ویلي و، تولیدي توکي باید تولنیزه شي . په چین کي کارګر او عادي مامورین لکه په صنعتي لویدیځو هیوادو کي کارګره طبقه له تولیدي توکو له کنټرول څخه لري ساتل کیږي .که څه هم دوی په دولتي کارخانو کي کارکوي . د دوی استثمار یا زبیښل لمنځه نه ځي . فریدریس انګلس داسي وایي ،چي دولتي کول کپیټالېستي اړیکي لمنځه نه وړي ،بلکي نور وده ورکوي . دا یو مهم تکي دی تر څو چي حاکمه طبقه په ملکیت کي لاس لري ،دولتي کول کپیټالیستي اړیکي لمنځه نه وړي یواځي د استثمار فورم بدلیږي .
له همدي امله چین له یو سوسیالیستي اقتصاد سره سرو کار نه لري . پوښتنه دا ده چي که چین سوسیالېست ندي بیا نو څه شي دی ؟
په اویاوموکالونو ډنګسیاوپنګ په ډاګه ویل ، دا هیواد به نړیوال مارکیت ته لاره خلاصه کړي . په بله وینا ، موهمه دا نه ده پلانیزه کول یا ازاداقتصاد جوړه ول ، اصلي خبره دا ده چي اقتصاد وده وکړي.
د چین داقتصاد موهمي برخي لا د دولت په واک کي دي .کمونیست ګوند یو کمېسیون د اداري چاروا ددولتي ملکیت د کنټرول لپاره ټاکلي دی . د غه کمېسیون هرڅه څاري ،څه چي په دولتي کچه موهم دي . ورسره ووه کلیدي صنعتي ستري کمپني لکه د چین ټیلکام،هوایي چلند،پطرول او دسون نور توکي ، دموټرجوړولوصنعت،معلوماتي ټکنالوجی او د فولادو فابریکي . داټول ۵۱ سلني د چین د دولت په لاس کي باید وي ، چي ورته دولتي کپیټالیزم ویلي شو .په نورو کپیټالیستي صنعتي هیوادنوکي لکه فرانسه،المان انګلیستان هم د نړیوالي جګړي څخه ورسته د اقتصاد او دولتي ملکیت لوي برخي دولت په لاس کي لرلي .
کمونیست ګوند ډیر شمیر د ازاد اقتصاد ریفورمونه لو مړی په کرنه او بیا په صنعت کي پلي کړل .
په ټولیزه توګه د چین ټولنیزو اړیکو ته په کټو سره کړي شو ووایو ، په چین کي یو نوې ډول د دولتي کپیټالیزم یا پانګوالي سېستم رامنځته شوي دی .
لویدیځ دچین څخه دولسواکي تمه درلوده . په لویدیځ کي ډیر خلک په لیبراله اقتصادي ودې تیوري باندې باورلري چي ورسته له مسلسله اقتصادي ودې څخه یو هیواد ورو ورو ولسواکه کیږي او سره په منځني طبقه کي پانګه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه:** دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

وده کوي او دمنځي طبقي شمیره  په خپله ورو ورو ډیریږي . دغه تیوري اوس رد شوي ده .په چین کي ګونډي واکمن او ځواکمن ړون اندي نه یواځي هود لري چي په واک کي پاتي شي بلکي دوی په ډیره هوښیاري سره د اقتصادي ودې  لیبراله اغیزي پروړاندې  سم اجرات ترسره کړي  . په اتیاوموکالونو کي چینایي واکمونو د ولسواکه ریفورمونو په اړه خبري اتري وکړي  او یوه طرحه یي وړاندي کړه . په ۱۹۸۹ کال کي کله د پیکینګ  دسولي په اسماني  ډګر کي  ډلیزه وژني ترسره شوي ، بیا تر ننه څوک په چین کي د سیاسي ریفورمونه په اړه خبري نه شي کولي .

په چین کي دخوار او شتمن چینایي ترمنځه واټن څښت ډیر دی ، په تیره دغه توپیر بیاد کلیوالي او ښاري سیمو ترمنځه  ډیر ښه لیدل کیږي . چین له همدې امله غواړي  خپله چټکه اقتصادي وده لږ څه په ورو کړي . ډیر شتمن او ماړه خلک په شانګهاي او  هانګ کانګ کي اوسي ._د چین کلني پوځي مصارف اټکل  دیرشو میلیاردو ډالرو  ته رسیږي . چین د خپل ۲،۳ میلیونه وسلوال  پوځ سره د نړۍ تر ټولو ستر پوځ  لري  . دچین اټومي توغندي  له ۴۰۰ څخه ډیر دي .

۶ . دراتلونکې نړیوال ځواک  سیمه یزه او نړیوال  اقتصادي سیاست

پرون له چین سره په نړیواله کچه څښت ډیر تبعیضي چلند کیدو. نن چین د نړۍ په هرکونج  کي  شتون لري  او نړۍ اوس د چین  او  دچینایانو دکار په اړه ډیر څه پوهیږي  .  چین  د نړۍ ستر مارکیټ دی . په اسیا کي پر ټولو مارکیټونو باندي انحصار ي اغیزه  لري . د چین صادراتي توکود دریمه نړۍ  هیوادو فابریکي او بازارنو یي  ټول وران کړي دي . په تیره بیاد  اسیا لویه وچه د  چین ترستراتیجیکي اقتصادي کنټرول لاندي ده .

چینایي توکي د لویدیځ په بازارونو کي  لمبیږي . چین  د ټولو  اومو توکو یوه نه مړیدونکي تنده او لوږه لري .   په تیره بیا  تیلو  ته ډیره اړتیا لري  . چین په خپله د نړۍ دوه سلني  تیل لري. چین په میلیونو ډالر د قزاقستان، نایجریا،سودان ،اندونیزیا،وینزویلا او د کاناډا دتیلو په زیرمو کي پانګونه کړي ده  .  پر عراق باندې د متحده ایالاتو یرغل څخه مخکي چین  هلته ډیر ه پانګه  درلوده . اوس چین په ایران او سعودي  عربو کي ډیر ه پانګونه کړي ده .

دچین کپیټالیست  او کمونیست دولت د افغانستان  سره په ختیز کي سرحدي پوله لري . چین د افغانستان له طبیعي زیرمو سره  د نورو هیوادو په پرتله  ډیره لیوالتیا لري، ځکه افغانستان د دوی  نږدي ګاونډی هیواد دی .  په ۲۰۰۷ کال کي چین وکولای شوای له روسیي ،امریکا، کاناډا او قزاقستان سره په مزایده کي د لوګر د مس عینک کان د استخراج امتیاز چي دري نیم میلیارده ډالره پانګونه په کي کیږي، ترلاسه کړي . چین په افغانستان کي  ترټولو جدي پانګه کوونکی هیواد  دی . سربیره  پر دې چین د اقتصادي او سیاسي نفوذ له لارې په افغانستان کي د هند او پاکستان پر سیالی هم څارنه کوي . د چین د اقتصادي فعالیتونو پراختیا په افغانستان کي په تیره له منځنی او سویلي اسیا او منځني ختیځ سره  ډیر ازښت لري . په تیربیا د افغانستان نبلول  له دغو سیمو سره د چینایانو لپاره  دسیمه یزه امنیتي او اقتصادي  ستراتیجي یو مهم عنصر ګڼل کیږي . دتبتیانو او عیغوریانو  سیمي د چین سیمه ایز امنیت د ټینګښت لپاره اندیښني جوړي کړي دي . ځکه دعیغورو او تبتیانو بلتون غوښتونکي  غورځنګونه  په پټو مبارزو بوخت دي  .

دچین نړیوال ځواک کیدل  جاپان ته ستر کړکیچ رامنځته کړي  دی . جاپان اوس منلي  چي په اسیا کي جاپان  لومړني اقتصادي او سیاسي  ځواک نه دی . جاپان همداوس چین ته  د ختیزو اسیایي هیوادو د ټولني  جوړولو وړاندیز کړی دی .

په نړۍ کي  دوه له پنځو انسانانو څخه یو هندي او یو چینایي دي.  که  چین او  هند د خپلو میلیاردو وګړو سره یو ستراتجیک  تړون ته ورسیږي ، لویدیځ او امریکا به مجبور وی چي د دوی پښو ته سر ټیټ کړي . دغه دواړه هیوادونه  په نړۍ کي د خپلو ډیرو فابریکو او مخ پر ودې ،پرمختللي لابراتوارنو، اقتصادي او پوځي ځواک له امله نه ماتیدونکي دولتونه  دي . د ښامار او د فیل یوځای کیدل ناشوني بریښي ،چین او هند دسبا ورځي نړۍ  او داومو توکو په سر دیو بل سیالان  دي. چین په دې برخه کي د هند څخه  لس کاله پرمختللی دی  .  هند لکه چین دنړیوال اقتصادي بحران ګټونکي دی  . د IWF د سپروی له مخه ۸۰۰ میلیونه چینایان  ۶۰۰ هندیان  بې روزګاره دي . هند د خپل اقتصادي ودې چټکولو لپاره د خپلو ګاونډیانو سره  سولي ته  ډیره اړتیا لري.  دغه سوله  د  امریکي متحده ایالات په ګټه هم ده. افغانستان او پاکستان د امریکي د بهرني سیاست اجنداپه مرکز کي شتون لري . دهند او چین اړیکي لا ډیري کړکیچني دي ، د دوی ترمنځ  تل  د پولي په سر  اخ او دب رامنځته کیږي  .  د پیکینګ او اسلام اباد اتحاد د هند په سترګو کي یو ازغي  دی  . هند او پاکستان دیو بل تاریخي دښمنان دي . دا دښمني هغه مهال نوره ترینګلي شوه کله چي په پاکستان کي ځانوژونکي ترهګر و روزنه ومیند او د هند د بمبي ښار په سوداګریزه سیمه کي بمي چاودني ترسره کړي اود ۱۶۳ انسانانو څخه  ژوند واخیست . هند له پاکستان  دترهګر په وړاندې مبارزه کي  د مشروطه همکاري  اعلان کړي. هند په حقه سره  د پاکستان ولسمشر زرداري په واک کي پاتي کیدل د نوموړي هیواد  د کورنیو کړکیچنو حلاتو ته په کتو سره  د شک په سترګه ګوري .

چین له ایران سره پراخ تجارتي اړیکي لري . چین د ایران له تیلو او نور زیرمو سره ډیره لیوالتیا لري . په همدې وجه چین د امنیت په شورا کې د ایران په وړاندې د یورانیمو په بدایه کولو کړکېچ کې د نوموړي هیواد پلوي کوي .
چین د پاکستان په ګوادر بندر کې هم ډېره پانګونه کړې ،چین غواړي د هند سمندري لار لنډه کړي او د پاکستان له لارې د عربو خلیج ته ځان نږدې کړي . چین کولای شي د افغانستان له لارې دا دوه هېوادونه د خپل سینکیانګ له سیمې سره ونښلوي کړي.
دولسي جمهوریت سیاسي سېستم په اروپا کي دوه اړخیزه خیره لري . د چین کوتنیونکي سیاست پوهان، خبریالان ،د بشرد حقوقو یا رښتونوفعالین د چین په سیاست کې دیو فولادي دیکتاتوري سوک چار ویني، د چین په دننه کي تول سیاسي،بشري نوښتونه اوخوځښتونه ځپي او په بهرني سیاست کې بې له کومه پامه خپله ملي ستراتیجی پر نور هیوادو باندې مني .
دچین ولسي جمهوریت اوس د نړیوالو اقتصادي چارو بانک ګرځیدلي دی . دا شوني ده چي چین زموږ د نړۍ یو ستر اقتصادي ځواک وګرځي. چین اوس د متحده ایالاتو او اروپایي ټولني تر څنګه دریم ځواک دي .
دچین اود امریکي متحده ایالاتو نړیوالي سیاسي اقتصادي اړیکي او د دغي هیوادو اړیکي د اسیایي هیوادو،د پخواني نړیوال زبرځواک روسیه سره یوې بلې ژوري ځیرني ته اړتیا لري .په دغه لیکنه کي ځای ورته نشم ورکولي .چین به د امریکي متحده ایالات د یواځني نړیوال زبر ځواک په څیر ډیر زرمنخل کړي .څکه اقتصادي ځواک تل سیاسي ځواک وی . دچین ولسي جمهوریت یو سیاسي اقتصادي نړیوال ځواک دی او ورسره دامریکي متحده ایالاتو یو ستراتیجیک سیال بلل کیږي . لویدیځه نړۍ یوځل بیا په الارمي توګه د لري ختیز نړیوال ځواک راتوکیدو ته ګوي . لویدیځ له ځان څخه پوښتنه کوي چي موږ باید د چین له ستر هیواد څخه وډارشو ؟ همداوس لویدیځ نه شي کولي یواځی د نړیوال سیاست اجنډا وټاکي . لویدیځ د شلو نه تر دیرشو کاله پوري وخت لري چي نړیوال سیاست د چینایانو سره یوځای وټاکي .

## ۷ . د چین او امریکي سیاسي او اقتصادي اړیکي

امریکا او چین نن زموږ د نړۍ دوه خورا مهم زبرځواکه هیوادونه دي . چین مخکي له نړیوال پانګوالي سیستم څخه یو لوی اقتصادي ځواک وو .
د دوهمي نړیوالي جګړې په پای کي د ختیز او لویدیځ دوه قطبي سیستمونه د نړۍ په سیاسي، اقتصادي چارو باندي رامنځته شول . ختیزبلاک د پخواني شوروي اتحاد او لویدیځ بلاک د امریکا متحده ایالاتو په مشري لارښونه ورته کیده . د ۱۹۹۰ کال په پیل کي د شوروي اتحاد د لمنځه تللو سره د دوه قطبي سیستم پای رامنځته شو . یواځیني نړیوال زبرځواک د امریکي متحده ایالات د خپل پوځي او اقتصادي ځواک له امله پاتي شو . ورسره یو شمیر نور نړیوال ځواکونه شتون لري . دوی هڅه کوي چي څنګه دغه یو قطبي سیستم په مختلفو ډولونو باندې په دوه اویا څو قطبي سیستمونو باندې واړوي . دساری په توګه نه یواځې دنه دولتي اسلامي بنسټپال ځواک فعالین بلکې سیمه یزه ځواکونه لکه اروپایي ټولنه،دولتي ځواکونه لکه روسیه او د چین ولسي جمهوریت یاده ولي شو . چین په ټولو ځواکونو کي دغي موخي یعني نړیوال ځواک ته د رسیدو ډیر نږدې شوي دی . راتلونکي نړیوال زبر ځواک ؟ ، دغه پوښتنه د پام وړ ده . نړیوال له دوه قطبي سیستمونو څخه ناوړه او زړه بګنوونکي تجربي لري . په میلیونه انسانان د دوی په سیالیو کي لمنځه تللي دي .
په نږدې راتلونکي کي به دامریکي اوچین ترمنځ پوځي جګړه پیل نشي خو د دوی ترمنځه اقتصادي جګړه د سړې جګړې په څیر پیل شوې ده . دغه دواړه هیوادونه یواځې د خپل اقتصاد د سمبالښت ،سمیورتیا او ګټې په اړه فکر کوي . دواړه غواړي د اوسنیو خوراپیچلي حالاتو په وړاندې د نړیوال بحراني اقتصادي حالات او دنړۍ اقتصاد پرمختیا یې لارو چارو دبدلون، جوړښت او بنوالي په اړه هیڅ فکر نه کوي . د بارک اوباما حکومت د رامنځ ته کیدو سره د چین او امریکي سیاسي، پوځي او اقتصادي اړیکي له هغه مهاله ډیرې کړکیچیني شوې ، کله چي پنتاګون تایوان ته د ۶،۴ میلیارده ډالرو پوځي تجهزات پلورلو اعلان وکړ. ورسره د بارک اوباما له خوا په تبت کي دچینایي د حکومت څخه د بشر د رښتونو درناوي غوښتنه وشوه . چین په پیکینګ کي د امریکي سفارت ته د یو لیک استولو له لارې د سپیني ماني دغه پریکړه وغندله او ان د دواړو هیوادو دسیاسي اقتصادي اړیکو د بریکون ګواښ یې په کي وکړو . چین تایوان ته دامریکي د وسلو پلورل پلان د خپل ملي امنیت لپاره یو سترګواښ او په سیمه کي د امریکي پوځي اغیزه په ډیریدو ویني . له همدې امله په چین کي امریکایي ضد احساسات په ډیریدو دي . دچین حکومت او د چینایانو غبرګون هیڅ کله دومره شدید نه وه . دبیلګې په څیر په ۱۹۹۹ کال کي د چین سفارت په پخواني یوګوسلاویا کي د امریکایي جیټ الواتکو له خوا بمباري شو . چینایانو د امریکي بښنه او د سفارت تاوان یې و مانه . چین اوس تایوان ته د امریکي وسلو پلورلو په اړه ډیر ټینګ غبرګون ښودلي دی . د چین د وسله وال پوځ لوی درستیز وویل ، چین د امریکي هرډول پوځي ګواښ ته چمتووالي لري .
چین پرنړیوال مالي اقتصاد او سیاست باندې ستره اغیزه لري .د ډالر برخلیک د چینایانو په لاس کي دی،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه**: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولئ

ځومره چې امریکا په یوقطبېزم باندې ټينګه ولاړه وي هغمره چين ته اسانه ده ،د خپل اقتصادي ودې له لارې په نړيوال سياست کې له هند، روسي، سويلي امريکا او افريقا کې ځانه ته متحدين او يو اتحاد رامنځته کړي .
چين کولې شي چې د ين بيه لوړه کړي ، د چين حکومت هڅه کوي چې د چين رسمي کرنسي ين بيه قصداً ټيټه وساتي ، تر څو چې په نړيوال مارکيټ کې د دوی مالونه ښه و پلورل شي . تر ۲۰۰۵ کال ين د امريکي ډالرو پوري تړلې کرنسي وه . چين ا مريکې ته تر ټولو ډير لوی پوروړکونکي هيواد دی .
د افغانستان او عراق جګړې د چين او امريکې لومړني اقتصادي جګړې دي،داجګړې د نړی د تيلود زريمو پر سر دي چې د نړی په تاريخ کې ليکل کيږي . داجګړې په لومړی ګام کې د تيلود طبعي زيرمو په سر نه د کولتورنو، مذهبونو جګړې دي . همداوس امريکايان په دغه جګړو کې د خپل پوځي او اقتصادي ظرفيتونو ورستي پلو ته رسيدلي دي .
فرانسوي اقتصادپوه جان فرانسيو سوسبيله کتاب ،، چين او امريکا دا پروګرام شوي جګړه،، په نوم دی، دی ليکي ،چين به د امريکې سيال په ځير ډير ژر راڅرګندشي . په کتاب کې د امريکي او چين په اړه يوه ډيره ښه په زړه پوري ځيړنه شوي ده .
دالماني ليکوال ولفګنګ هيرندکتاب ،،**يرغل پر اسيا**،، په نوم دی، دی د لوديديځ دلمنځه تللو لاملونه نه يواځي د چين په نوي رامنځته کيدونکي ځواک کې بلکې دبرازيل، هند او روس په پښودريدلو کې همويني . د هغه څيړني اروپايان د اروپا د راتلونکي په اړه ډير انديښمن کړي دي.
همدااوس د المان فدرالي جمهوريت ولسمشر د رينتيا په ويلو سره له خپلې دندې څخه استعفا ته مجبور کړل شو . کله چې هغه په افغانستان کې د ناټو ترمشري لاندې د خپل هيواد پوځي يرغل د المان هيواد د اقتصادي ګټو ساتنه وبلله . نوموړی ويلي وه چې د المان غونډي يوهيوادته چې بهرنی سوداګري يې د اقتصاد لويه برخه جوړوي اړينه ده چې د خپلو اقتصادي ګټو په وجه خپل سرتيري په جګړيزو دنده وګماري . ښاغلي هروست کوهلر پخوا د نړيوا ل بانک يو تجربه لرونکي مشر وو. ولسمشر پوهيدو چې دی د المان داساسي قانون پربنسټ په سياست کې لاسوهنه ونشي کولاي . سربيره پردې ده د المان لپاره خبري وکړي ، خوپه اصل کې ولسمشر د امريکې په مشري د ناټوځواکونو جګړو ته په افغانستان کې اشاره وکړه .

په ۲۰۰۱ کال د امريکا متحده ايالاتو د خپلو ناټو ترون ملګروسره په افغانستان کې د ترهګری پروړاندې د جګړې ترنامه لاندې پوځي يرغل وکړو ، د يوې پلمې په توګه دخپلو پټو سياسي، اقتصادي او پوځي موخو لپاره داسيا زړه افغانستان ونيو. په اصل کې دوی دخپلو جيوستراتيجکی، جيوايکونومکی موخو لپاره د ترهګری پر وړاندې د جګړې له نامه څخه د يوې پلمې په توګه کار واخيست چې تر دغه نامه لاندې په سيمه کې د ناټو او د امريکا د متحده ايالاتو پوځي ماشين جوړ او خپل ناپايه او نا څرګنده پوځي، سياسي او اقتصادي پاينټ ژوندي وساتي . امريکې د ناټو په مشري په ټولې منځنی او ختيزې آسيا کې پوځي اډې د همدې موخو لپاره جوړ کړي دي . امريکا هڅه کوي د چين،هند او روس په پرتله نوموړې سيمې په خپل کنټرول کې ولري . که داسې ونه کړي امريکا او لويديځ نوره په اسيا کې پښه نه شي ايښودلې. دامريکې او ناټو امپرياليستي، هژمونيستي ،کولونياليستي پوځونه د افغانستان اوله اسيا څخه دووتلو سره به د چين دولت هژمونيستي او امپرياليستي سياست په سيمه او اسيا کې پراختيا وموميې، ورسره به دنړيوال سياست او د جګړو نومونه او بڼه به بدله شي .
۸ . لنډيز
چينايان د لويديځوالو لخوا ۱۵۰کلن رټل شوي دسرتيټوالي تاريخ نه ويره وي . د چين حکومت خپل هيواد ته لويديځواله ولسواکي د يو نامعقول نظم او موډل په ځير رد وي . دچين کمونيست ګونديه خپل انحصاري واک باندې ټينګ ولاړ دی . چين هيڅ ډول ناپيلي سياسي کتونکي نه مني او منظم شوي سياسي فعالين تل په چين کې ځپل کيږي . له همدې امله د چين ولسي جمهوريت يو مستبد او توريتي حکومتي سېستم دی .که څه هم له ۱۹۹۰ کالونو څخه تر اوسه په چين کې ژور بدلونونه په اقتصادي او ټولنيزو برخو کې راغلي، چې د ماوسيتونګ له مهال سره نه پرتله کيږي .
چينايان له بنسته زموږ د نړی ښنل شوي کپيتاليستان او سوداګر دي . چين به د نړی فابريکې په توګه له لوی صنعتي هيوادونو څخه لکه امريکا، جاپان،او اروپا تخنيک او صنعت په لاس کې واخلي . په نوموړو هيوادو کې بې روزګاري ورځ تربله په ډير ريدو شي .چينايانوله سلګونو کلونو څخه په نړيواله کچه سوداګري کړي ده . چين غواړي د نړی کارخانونه يا فابريکه وګرځي . لويديځ بايد ډيره موده د نړی له کارخانې څخه ارزانه توکي راونيسي . مارکسيستي، لينينستي اوماوېستي سوسياليزم په چين کې هڅې يو نمايشي ځلې ګرځيدلي دی . چين به ډير ژر د يو نوي کپيټالېستي نړيوال زبرځواک په ځير راڅرګندشي .
نولسمه پيړی د انګريزنو وه،شلمه پيړی د امريکايانو ده ، يوويشتمه پيړی به په رينتياسره د چينايانو وي.

---


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**يادونه**: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د ځينو پښتنو ځواب به د چين راتلونکي نړيوال سياست  ورکړي . لکه  چين به د لويديځ سره په  دغه نوې نړيوا لتوب کې ځنګه لوبه کوي ؟ د چين  راتلونکې سياسي او اقتصادي ځواک ستراتيجی به په څه ډول وي ؟ چين کوم ټوکې په لاس کې لري چې خپله اراده د يو زبرځواک په څير په نړۍ کې  پرته له پوځې ځواک څخه پلې کړي . چين به دنړيوال ځواک  په ځير څه ډول کرکتر  ځان ته غوره کړي ؟ کمونېستي او کپټاليستي سېستم ديوې لنډې مودې پورې په چين کې چليږي .  په  يوويشتمي پېړۍ کې د چين  نړيوال ځواک کيدو سره به نړۍ په بنستيزه ډول بدلون ومومي . نوې نړۍ به څوقطبې وي  ؟د نويو نړيوالو ځواکونو  موخې به همداسي  يواځې دپوځې  ځواک، زبښاک  او برلاسي جګړي وي او  يا د ټولې  نړۍ د وګړولپاره اوسا او سولمن ژوند  لپاره کار کول وي ؟. له چين څخه  دا بې مخه بې سټه زير ښامار په سيمه ايزه او نړيواله کچه  موږ  ټولو  ته  ډار په کار دی .

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
**يادونه**: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ